د دانیل دامبی لیکنه

د انټرنیټ دفارسی منابعو څخه
ژباړونکی : عزیزاحمد خوارمل

# دشوروی تیروتني مه تکراره وي
# فانینشیال تایمز او دبرژنسکی لړدید د منځنی ختیځ په هکله !

دامریکا دملی امنیت یوپخوانی کارپوه اودبارک اوباما یو وتلی اونامتوپلوی ، دجمهوری ریاست دټاکنی ودی نوماندی دیموکرات ته په زغرده سره وایی : اوباما ، دشوروی دماتی دتجربی دتکرارولو دخطرسره ځان یې په افغانستان کې مخا مخ کړی دی .

ښاغلی اوباما وافغانستان ته ترلسوزرو (۱۰۰۰۰) ډېردامریکایي ځواکونودلیږدولو غوښتونکی سویدی،دا په داهسی حال کې دی چې پخوانی شوروی اتحاد هم په همدی ډول دخپل زرهاوتنه سربازانوپه لیږدولوسره وهغه هیوادته په هغه هیواد کې ستره نظامی ماته یې ورپه برخه سو.

روبینیو برژینسکي په یوی مصاحبی کښي وفانینشیال تایمزته په زغرده اوبربنده توګه يې وویل اوګواښ يې وکړ:«ددی نکته ی په پوهیدلوسره دامریکا دسیاست دپاره په مجموعی اوتولیز ه توګه سره اوپه خاص ډول سره داوباما دسیاست دپاره ډېر مهم دی ،چې یوازی دځواکونواودسربازانوپه ډېرو لیږدلوسره ،د داتولواوسنی مسائیلواومشکلاتودحل لاره نه ده ،موږځانونه دهم هاغسی تیروتني په وړاندی مخامخ کووچې هغه يې پخوانی شوروی اتحاد ترسره کړ» .

ښاغلی برژینسکي معمولاً له دی سببه چې پرروسیی باندی هم ډېری ګوتنیونی کوی ، اودده غوښتنه په دی هکله دا دی چې دامریکا سیاست دی په منځنی ختیځ کې داهسی نه ،چې د« اسرائیلو دګټوتابع وی » . نوځکه دی دیوجنګجالی سړی په څیر یې وینی اودی هم اوس مهال خپل ځان داوباما یوملاتړ ورپیژنی ،مګر داوباما دجمهوری ریاست په تبلیغاتی کمپاین کې برخه نه اخلی اوحاضر نه دی چې ځان دپیغامونو اورسنیو ترتبلیغاتولاندی راولی .

**اتیا (۸۰)** کلن برژینسکی ،د هاوارد اود کلمبیا دپوهنتونواستاد او دجانسون اود کارتردولتونوپخوانی لوړپوری چارواکی وویل : د**(۱۹۶۰ )**میلادی کال راپه دی خوا دی ډېر دجمهوری ریاست دټولو نوماندوخصوصاً داوباما او دجان اف کندی ترتاثیر لاندی راغلی دی چې دوي هردواړه جوړه دوخت اوزمان داهنګ درغ سره یوځا ی روان دی اوهمدارنګه دی وایی دښاغلی اوباما دپاره ډېر مشکل دی چې یو شفافه اوسپیڅلی باندنی سیاست تعین اومخته بوزی .

دغه امریکایی نظریه ورکوونکی دایران،اسرائیلواو دامریکی ترمنځ داوسنی کړکیچ په هکله وویل :«اوسنی وخت اوزمان ډېرخطرناکه وخت دی » . که زموږ کار په یووخت کې دعراق ،افغانستان ،پاکستان اوایران سره په جګړه کې تیر سی ،نوایا بل څوک کولای سی چې دامریکا درول په هکله په نړ ی کې چې په راتلونکی کې به ،ورانه ونکی اندیښنه رامنځته سی اودغه یوبنسټیز ګواښ دپردی شاته دامریکی دجمهوری ریاست دراتلونکی ټول ټاکنی دپار دی . او یوه څلوراړخیزه جګړه به ،کلونه کلونه موږ را ښکیل کوی ..... اودغه کړنی به دامریکاد ښکیلاک پای ته رسیدل به وی .

## څوکاله وروسته په افغانستان کې دامریکا اودغه د ملګروهیوادونودستړیاشیبی رانږدی کیدونکی دی

**سیمیون باګداساروف دمنځنی اسیا دسیمی دچاروکارپوه اودروسیی په ولسی جرګه کې دخپل سیمی دخلکواستازی په یوی مصاحبی کښې دافغانستان داوضاع په هکله دریا نووستی دورځپاڼی دژورنالیست وپوښتنوته داهسی وایی :**

**س - دا اوس مهال دافغانستان امنیتی اوضاع څرنګه دی ؟**

**ځ - همدا اوس په افغانستان کې دنړیوالو کډونظامی ځواکونوپه وړاندی یوڅوډلی دښمنان ددوي پر ضدجنګیږی ،لمړی د طالبانووسلوال ګروپونه د ملا عمر څخه قومانده اخلی اودافغانستان په سویلی اوسویل ختیځوسیمو اوپه قندهار کښې جنګیږی اویوشمیر پښتانه قبایل بیله داچې دملا عمر څخه دستور واخلی دهمدی ګروپونوسره یوځای کیږی .اوهمدارنګه دافغانستان اسلامي ګوند د ګلبدین حکمتیار ترمشرتابه لاندی دجګړی ډګرته ورننوتی دی .**

**او دا په ډېر جرائت سره ویلی سوم چې د« لویدیزد دموکراسی ددښمنانو» دجبهی دپراختیا امکانات دهغی جملی نه دامریکی دننی پلویانوپه ګډون سره په راتلونکی کې دامکانه څخه لیری نه دی .**

**س - ستاسومنظور دشمالی ټلوالی څخه دی ؟**

**ځ - دقیقآ همداسی دی چې پوهیږی ،په اصطلاح شمالی ټلواله چې دامریکا اودهغه دملګروسره په جګړه کې یې په فعاله توګه سره دطالبانوپرضدمرسته وکړل اوس مهال هم مرسته کوی . اودغه ډله دتاجیکانواوازبکانوڅخه جوړه سویده اودتجزیه غوښتنی سوچ په سر کې لری اوزیار باسی تر څوخپل دولت دافغانستان دخاوری په یوه برخه کې جوړاورامنځته کړی اودیوشمیر کارپوهانودڅیرنی پربنسټ ،واشنګتن ددغه ځواکونوسره دیولږ مسائیلوپه اړه لکه دمخدرتوکودقاچاق په هکله ددوي سر ګډ توافق اولږلید لری . که څه هم دغه خبری په اصل کې تعجب اوره اوغیر ربښتینی معلومیږی مګر دا به پوره اوپرځای وی چې یووار ونقشی ته وګورو تر څوددی خبروپه ریښتینوالی باندی پوه سو.داښکاره خبره ده چې دافغانستان نه دمخدروتوکوانتقاله ول دڅولاریوڅخه تر سره کیږی . دشمال لاره دتاجکستان پرلور،سویلی لاره دپاکستان پرلور او لویدیزه لاره دایران پرلور.اوترټولوغښتلی لاره**

دغه دشمال لاره ده .چې په دقيقه توګه دغه لاره دتاجيکستان اوافغانستان سيميزه پوله (سرحد) ددغه شمالی ټلوالی لخوا څارل اوکنترول کيږی ،همدارنګه که يې په ياد ولروچې دامريکائيانوپه راتګ سره افغانستان ته دمخدره ټوکوکراوکښت دملګروملتونواودنړيوالوسازمانونودرسمی ګزارش پربنسټ لس ځلی ډېرسوی دی ، اوددی مسئلی سره ښکاره اوبربنډه اړيکی دی .

س- نو ولی به شمالی ټلواله دامريکا سره دښمن سی ؟

ځ - دعينی څيرونکودڅيرونوپربنسټ دامريکا کوچنی ترينه زيار اودمخدره ټوکوپه وړاندی مبارزه به ،دشمالی ټلوالی دمخالفت اود اور کولوسره به مخا مخ سی . اوهمدارنګه امريکا دنړيوال فشار له کبله هرومروبه دمخدره توکوپه وړاندی بايد وجنګيږی اوله دی کبله يوه نوی جبهه به دامريکائيانوپرضد جوړاو رامنځته به سی ،هغه قوماندانان اوسيمه ايزی چارواکی چې مخدره ټوکی تر خپل کنترول لاندی لری په دی ډول سره به هغه ګتی چې په دی اړه يې لاس ته يې راوړی دی په اسانی او په ډېره سادګي به يې دلاسه ورنکړ ی اولاس به تری وانخلی .

اوهمدارنګه نوی څارنی داهل تشيع دجوړښته څخه را منځته کيږی چې ددوي ددغه ډول کړنوځای دهزارجاتواودهرات سيمه ده ،چې دغه جوړښتونه دايران داسلامی انقلاب دسپاهی پاسداران تر کنترول لاندی کار کوی اودامريکا اوايران اويا دايران اواسرائيل دناسم اړيکوله کبله ،دتاوتريخوالی درامنځته کيدوپه صورت کې کولای سی دايران په وسيله دافغانستان په خاوره کې دامريکا پرضد کار ورنه واخيستل سی . که دغه مسئله رامنځته سی په افغانستان کې يو دايمی اوغير کنترولی جګړه به دامريکائيانواودهغه دملګروپرضد به راپيل سی .

ددغسوپيښوپه وړاندی په مبارزه کې اوسنی ميشته پنځوس زره (۵۰۰۰۰) کسيز لوپديزګډځواکونه به ونه سی کولای خپلی دندی اوچاری په سمه توګه ترسره کړی ،اوهمدارنګه په سيمه کښې دجګړيزوعملياتونوپراختيا بيله ددی ځواکونودتلفاتودمخنيوی څخه چې تر دا نن پوری ډېرتر ه تر (۵۰۰) پنځه سووتنوڅخه وژل سوی او(۲۲۰۰) دوه زره دوسوه تنه يې ټپيان سوی دی چې بله لاره هم نلری .

س- امريکا تر کومی اندازی پوری کولای سی چې « په افغانستان کښې و دغه جګړی ته » دوام اوپايښت ورکړی ؟

ځ - زما په هاند ددريو (۳) او يا پنځه کلونوڅخه وروسته دامريکائيانو اوددوي دملګرو دستړيا شيبی رارسيدونکی دی اودوي به خپل دځواکونو دايستلودپاره دافغانستان څخه اړين پيل به رامنځته کړی . اودهغه نه به وروسته طالبان ديوی غښتلی جوړښت دپاره به زيار اوتلاش رامنځته کړی چې ټول افغانستان تر خپل واک لاندی راولی اودنوروملی لګه کيو دله منځه وړلودپاره به بل ځل افغانستان دخپل سنی فوندمنتاليستی اوپښتون ملی ګرايی خصوصياتوپربنسټ به اداره اوکنترول کړی .

## يوی امريکايي خبری رسنی وليکل :

## امريکا بايد دعراق اودافغانستان نيونه پای ته ورسوی !

د« کامن‌دريمز » خبری رسنی په يوی گزارش کې وليکل : تردا اوسه پوری دامريکا جمهور رئيس «جورج بوش»په عراق کې دخپل هيواد دځواکونودتل پاته کيدو په اړه دعراق ددولت دټينګ مقاومت سره مخا مخ سوی .

اودبلی خوانه دامريکا دجمهوری رياست دپاره ددموکراتانودنوماندی بارک اوباما طرح اووړانديزچې يې وويل ، امريکايي ځواکونه به د(۱۶) شپاړلسومياشتوپه موده کې به دعراق نه وباسم ،دنورالمالکی دعراق دلمړی وزير دخوا ورته هر کلی وويل سو .



پردغه بنسټ بوش هم په دا وروستيو ورځوکښې دخپلوځواکونودرا ايستلولپاره يې په افقی ډول اووخت باندی يې اشاره وکړ.اودبلی خوا نه عراقی ورځپانی «الصباح » هم تيره اونی دغه موضوع يې په بربنده توګه څرګنده کړ:بغداداوواشينګتن په دوه اړخيزه توګه سره ومنل اوموافقی ته سره ورسيدل چې دعراق څخه امريکايي ځواکونه به د دوه زره (۲۰۱۰) څخه بيا تردوه زره يولسم (۲۰۱۱) کلونوپوری ووځی .

اينتر پرس سرويس ددی موضوع په هکله ليکی : مګرموږ هرومرو دامريکايي سربازانودوتلوغوښتونکی يو چې خپل کورونوته دی ولاړ سی اودامريکا ټول نظامی اډی دی وتړل سی اودعراق دټيلو نه دی سترګي پټی کړو .اوهمدارنګه بايد وويل سی چې دامريکی يرغل پرافغانستان باندی هم په هم هغه اندازی سره غير قانونی دی چې پرعراق باندی دغه يرغل صورت وموندی اودملګروملتونودمنشورپربنسټ ټوله هيوادونه نړيوال مناقشی دی په سوله ايزوپرنسيپونو سره حل اودمنځه يوسی اوهيڅ کوم هيواد نه سی کولای چې دخپل نظامی ځواکونوڅخه دی دبل هيواد پرضد دملګروملتونودامنيتی شوراء څخه په اجازه اخيستلوسره دی دخپل دفاع ترنامه لاندی کار ځينی واخلی .

په دی اړه ويلی سو چې پرعراق اوافغنستان باندی يرغل نه دامريکا څخه دفاع دی اونه دملګروملتونودامنيت دشورا پربنسټ رامنځته سويدی ، نوواشنګتن بايد چې خپل ځواکونه ددی دليل پر بنسټ د عراق اوافغانستان د غير قانونی نيونی له کبله دی ددی هيوادونو څخه راوباسی . /

د پورتنی موضوعاتوپربنسټ دغه لاندنی سوژه مې وګرانولوستونکوته وليکل چې زموږ باندنی دښمنان ،زموږ

## دګران هيواد په هکله څه ډول فکرونوپه سرکې ،موخې اوپلانونه په مخکې لرى

## دخپل پلار اودنيکه وګران ټاټوبى ته !

زما ګران وطنه : داچې زه درنه تللى يم ما وبخښه

اوڅوک که راته وايى چې دى بى وفا وو، وفايې نه درلود

بله لاره بيله تښتى ماته نه ووپاته سوى

دوطن سره اورين مينه دبې هيلودردونوسره مل

دوطن اودهغه دسرلوړى اولسونونه ساتنه

ددغه سترارمان له کبله

ددغه هوډاودريځ له امله

ددښمنانوپه لمسون

دجنون اودګناهونوسيمى ته ورکش سوم

اوخوارزار دلته راغلم

، دهيوادسره دمينى داغونه

چې زمادزړه پرسر باندى انځور سويدى

هر ورځ دخپلوسترګوپه اوښکو يې مينځم

زما ګران هيواده :

دم ګړى چې درنه تللى يم

هره شيبه غواړم

چې ستادوطنى مينى په هنګامه کې دى

تل پاتى بى پايه پاته سم

اودخپل ځان په دى ويلوسره تاته ډاډ ورکوم

ترخوژوندی یم ستاسره مینه لرم

که زه درنه تللی یم

څوک دی نه راته وایی

چې ولاړې اوتګ یې یوننګ ،یوعیار دی

زما مینه ،زما موخی

زما سوی آهونه اوسوی فریادونه

دچوپتیا اودخواریودپردی نه

زما دمینی اومحبت راز یې

چې په ربښتین ډول سره

ستا سره یې لرم

لکه دسهار دسپیدودنورپه شان یې

دباندی راایستلی ،ځلانده ښکاری

اوداچې زه دخپلی ټاټوبی نه

لکه دسترګودیوی څاڅکی په شان

دژوندون دتورتمونوپه لوړوژوروکښې

ورک سوم

او

ویوی بی نښانه توری تیاری قبرته راغلی یم

په دی خاطر نه یم راغلی چې

د غلیم سره په عقیده وی جګړه کې

دکشولواودراکشولوڅخه ځان خلاص کړم

داهسی نه ده

زه دژاړګانوډکو ځلاندوسترګوښخه را تښتیدلی یم

زه دوحشیانودوحشی طوفان ښخه را تښتیدلی یم

زه په وسلوسمبال ظالمانود غیرانسانی کړنوښخه راتښتیدلی یم

زه دتیری کوونکو دتیری اودلوټمارانودلوټماری ښخه راتښتیدلی یم

دکوم ځایه ښخه ؟

دخپل پلاراودنیکه دټاټوبی ښخه

دوصل ،دمینی اودمحبت له ځایه ښخه

دهجرت وسړې لمنی ته مې ځان ورغورځولی دی ،

چې وجدان مې هم ملامت نسی

نا رضا اوخوابدی راتښتیدلی یم

نوای زما زهیر زړګیه :

دهجرت په سوزیدونکی اورکې وسوزه

نورنودا داورسکروټي داورلمبي

زما ښخه مه پوښته ، زما ښخه یې مه غواړه

ما هم په خپله غوښت

چې زه دی پرخپلوغلیمانواودهیوادپردښمنانوباندی

داورلمبه دی سم ، تندر دی سم ،دوزخ دی سم

زلزله دی سم ،سیلاب دی سم ،طوفان دی سم

سرونه یې ور غوڅ کړم ،او دوي ایری ایری کړم

مګرحیف اودریغ ، سل زره افسوزه چې اوس

دمرغه په شان د قفس په کنج کې تړلی او بندی یم

زه اوزما دتشویشه ډکه روح په ملتیاسره یوځای

یوه شپه بی خبره له ځانه

په ډېرتریخوالی اوسختی سره

دچوپتیا په لمنه کې دخپل ګران هیواد څخه وتښتیدم

زه دخپلوکړنونه اودخپل وکړنی موخونه ستړی نه وم

مادخپلوپتمنوخلکو سترارمان ترسره کول

او زه دخپلوویلوڅخه هیڅکله

پیښمانه هم نه وم اوپیښمانه هم نه یم

نوکله چې مې ولید

دبنسټپالو،چپاول ګرواودیرغلګروتروا‌کداری لاندی

تاته دچوپړ وړ نه وم

بیا هم سل زره ځلی افسوز چې

دم ګړی ستا له غیږی نه لیری

دپردیو په انګړ کې ژوندترسره کوم

مګرهیڅکله دی نه هیروم په ربنتیا اوصداقت سره

تاته په خدمت کولو ویاړم

سر اوتن مې،هرڅه مې ، هست اوبودمې

مادی اومعنوی شتمنی مې تر تا ځار دی .

عزیزاحمد خوارمل

بیلجیم دانتورپین ښار

10082008

*www.ayenda.org*